نشریه

# شبکه زنان افغان

سال سوم، شماره ۲۵، جون ۲۰۱۶ میلادی











سمندر وايي: مور هغه هستي ده چې د اولاد په سلګونو زره رازونه په سينه کې پټ ساتي.

وريځو وويل: مورهغه هينداره ده چې هر رنګ پکښې له ورايه ښکاري.

غرونو وويل: د مور درناوئ زما له څوکو څخه هم ډېرلوړدئ.

باران وويل: مور يوه داسي هستي ده چې تل يې د ميني ورانګي پر اولاد خپرې وي.

زماني وويل: د مور مينه زما له څغل څخه هم تېزه ده.

شاعر وايي: مور يوه داسي هستي ده چې د اوربدونکي سينې ته کښته کيږي

ليکوال وايي: مور هغه هستي ده چې د ستايني لپاره يې په نړۍ کي الفاظ نه موندل کيږي.

دعا وايي: مور هغه شخصيت دئ چې د اولاد د خوښۍ لپاره هر وخت ماغوارې.

جنت وايي: مور هغه هستي ده چې زه يې هم ترقدمونو لاندي يم.

لمر وايي: مور يوه داسي هستي ده چې له هرډول ګرمۍ اويخنی څخه اولاد ساتي.

ځمکه وايي: زما قيمت خو به څوک پوره کړي خو د مور قيمت هيڅوک نه سي پوره کولای.

هوا وايي: په ماکي نرمي او تازګي د مور څرګندونه ده.

رڼا وايي: مور د رڼا او ښودني څلی دئ.

سرچينه: تعليم الاسلام ويب پاڼه

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله


شماره صفحه


ارائه گزارش تحقیقی از تطبیق پالیسی جندر برنامه صلح و ادغام مجدد افغانستان..... ........ ۱.............


ارائه و پیشکش گزارش تحقیقی از تطبیق پالیسی جندر برنامه صلح و ادغام مجدد افغانستان در ولایات ........ ۲.............


دیدار با آقای عبدالروف ابراهیمی رئیس ولسی جرگه در مورد وضعیت کنونی قانون منع خشونت علیه زنان ........ ۲.............


نشست محترم عبدالستار مراد وزیر اقتصاد با مسوولین نهادهای چتری ................ ........ ۳.............


مجلس مشورتی شبکه زنان افغان در مورد مسوده چارچوب استراتیژی انکشاف ملی افغانستان برای کنفرانس بروکسل ........ ۳.............


مجلس با خانم اول کشور در مورد قانون منع خشونت علیه زنان........................ ........ ۴.............


نشست مشورتی شبکه زنان افغان با اعضای خویش جهت تعین اقدامات بعدی در مورد قانون منع خشونت علیه زنان ........ ۴.............


ارایه دومین گزارش سالانه شبکه زنان افغان راجع به کنوانسیون رفع کلیه اشکال تبعیض علیه زنان در افغانستان ........ ۵.............

دستآوردهای اخیر دفتر ساحوی شبکه زنان افغان در ولایت بلخ........................ ........ ۵.............


د میرمنو له پاره د مهارتونو زده کړې او تحقیق موسسه.................................... ........ ٦.............

په امنيتي سکتور کې د افغانو ښځو د پياوړي کولو د پاليسۍ لنډيز.......................... ....... ....... ....... ۷.............

د کندز په لاری برمته شوی ، بیگناه کسان دی (مطبوعاتی اعلامیه)........................ ....... ....... ....... ۱۱.............


IN PROVINCES ........................... ............................................... ........ 12.............


Snapshot: Research Report on Implementation of APRP's Gender Policy ........ 14.............



صاحب امتیاز: شبکه زنان افغان
مدیر مسوول: محمد الیاس حاتمی
۰۰۹۳۷۷۷۷۴۳۰۹۳
تحت نظر هیأت تحریر
دیزاین: شجاع الدین جهانی
تیراژ: ۵۰۰ نسخه
چاپ: مطبعه صنعتی سعادت



نشانی انترنتی:
newsletter@awn-af.net
ویب سایت: www.awn-af.net
آدرس: کارته پروان سرک جوار لیسه نادریه
کوچه فرعی اول دست راست خانه شماره ۲۲#
شبکه زنان افغان
بخش پروگرام



تمویل کننده:
Australian Government
Department of Foreign Affairs and Trade

# سرمقاله

## به مناسبت روز جهانی کودک



پیامبر اکرم (ص) می فرمائید: کودکان را دوست بدارید و با آنان مهربان باشید و هرگاه به آنان وعده دادید، به آن وفا کنید؛ زیرا آنان، روزی دهنده خود را کسی غیر از شما نمی دانند.

یازدهم جوزا مصادف است با روز جهانی کودک که همه ساله در بسیاری از کشورها به اشکال گوناگون چون تدویر محافل، ارسال پیام ها، و انجام سایر کارهای موثر برای کودکان تجلیل به عمل می آید. از این روز در حالی در افغانستان تجلیل می گردد که وضعیت کودکان افغان همچنان وخیم بوده و نیاز به توجه بیشتر اراکین دولت و مسوولین در قبال تغییر مثبت در وضعیت کنونی کودکان این سرزمین است.

از لحاظ حقوقی کودک به صغیری اطلاق می شود که به بلوغیت نرسیده و بدون شک باید تمام حقوق لازمی آنان تامین باشد. با توجه به این موضوع کودکان افغانستان نتنها از حقوق اساسی خویش محروم اند، بل با مشکلات مختلف روبرو و بسیاری از دسترسی به خدمات آموزشی، صحی و دیگر تسهیلات بی بهره هستند. آنان به کارهای شاقه مانند دستفروشی، موتر شویی، اسپند کردن و سایر موارد پرداخته حتا به اعمال بزرگتری چون سرقت دست می زنند.

با آنکه فصل کودکی کودکان افغان به زودی پایان می یابد و درگیر کار و روزگار می شوند، با این وجود آنان همواره طعمه ای درندگان بوده و وسیله استفاده جنسی و سایر جرایم قرار می گیرند. کودکان به انواع مختلف آسیب ها از جمله قربانی شدن در جریان جنگ، محرومیت از آموزش و پرورش، کارگماری به کارهای شاقه و گروه های مسلح، قاچاق، اعتیاد به مواد مخدر و سایر موارد که سلامت جسمی و روانی آنان را تهدید می کنند، دست و پنجه نرم دارند. این همه موارد ریشه در جنگ دارد، و عوامل دیگر آنرا میتوان فقر، خانواده بزرگ، بیکاری والدین، سطح پایین سواد و کوتاهی دولت در برابر پاسداری و حراست سالم کودکان دانست.

در چنین شرایط دولت باید اصل حمایت و دفاع از کودکان را اولویت کاری خویش قرار داده، برای بهبود وضعیت آنان باید طرح های تطبیقی را مشخص و آنرا برای همه دستگاه های دولتی لازم الاجرا قرار دهد. همچنان باید راهکارهای مناسب برای پیشگیری از نقض حقوق کودکان را روی دست گیرد و بصورت جدی در زمینه وارد عمل شود؛ تا تغییر مثبت در وضعیت موجود کودکان افغان رونما گردد و این گروه آسیب پذیر جامعه که قلب جامعه در حال رشد همچون افغانستان پنداشته می شود، را محفوظ و سازنده بسازد.

**محمد الیاس حاتمی** | مدیرمسوول




# ارائه گزارش تحقیقی از تطبیق پالیسی جندر برنامه صلح و ادغام مجدد افغانستان







۱۲ جون ۲۰۱۶ میلادی

شبکه زنان افغان طی برنامه ای در کابل گزارش تحقیقی از تطبیق پالیسی جندر برنامه صلح و ادغام مجدد افغانستان را ارائه نمود. در این برنامه مقامات دولت، نمایندگان نهاد های مدنی، ادارات زیدخل، و اعضای شبکه زنان افغان اشتراک ورزیده بودند. حسینه صافی رییس اجرائیوی شبکه زنان افغان در رابطه به اهداف برنامه معلومات ارائه نموده و افزود که این شبکه بر اساس اولویت راهبردی زنان، صلح و امنیت به بار دوم گزارش تحقیقی از تطبیق پالیسی جندر برنامه صلح و ادغام مجدد افغانستان را به سطح مرکز و ولایات به نشر می رساند. همچنان خواستار سهم گیری همه افراد جامعه به ویژه زنان شده تا بشکل مستقیم و غیر مستقیم از این پروسه مستفید گردند.  سپس یافته های گزارش تحقیقی طی پیشکش معلوماتی توسط سونیا اسلمی هماهنگ کننده بخش دادخواهی شبکه زنان افغان با اشتراک کنندگان شریک ساخته شد.

در ادامه اعضای هیئت منصفه هریک آقای قاسمیار عضو شورای رهبری صلح، داکتر فضل عمر طارق به نمایندگی از برنامه صلح و ادغام مجدد شورای عالی صلح، پلوشه حسن از جمله موسسین شبکه زنان افغان و رییس دفتر AWEC، سمیرا حمیدی رییس هیئت مدیره شبکه زنان افغان، و نوریه صافی عضو هیئت مدیره این شبکه بحیث تسهیل کننده روی برنامه صلح و ادغام مجدد و گزارش تحقیقی شبکه زنان افغان در مورد تطبیق پالیسی جندر برنامه مذکور بحث نمودند.

آقای قاسمیار طی سخنرانی گزارش تحقیقی شبکه زنان افغان را ارزنده و مثبت تلقی کرده در مورد استراتیژی شورای عالی صلح چنین اشاره نمود " این استراتیژی به سه نکته مهم ارتباط می گیرد که شامل؛ تحکیم اجماع ملی، داشتن هماهنگی با دولت، و اینکه این استراتیژی متوجه جامعه بین الملل، منطقه و فرا منطقه است"

آقای طارق در مورد مشکلات سد راه تطبیق پالیسی جندر و راهکارها جهت شامل ساختن این پالیسی در برنامه صلح و ادغام مجدد افغانستان صحبت نموده افزود: " ما هنوز هم در سطح ولایات مشکلات خود را داریم زیرا افغانستان یک مملکت سنتی است و باید بخاطر ذهنیت سازی راه طولانی را پیمود  تا آنها در قسمت پذیرش و حضور زنان در اجتماع آماده شوند"

خانم حمیدی با تاکید بر بازنگری پالیسی جندر یادآور شد که " شورای عالی صلح در استراتیژی که روی دست دارد باید راهکاری را به وجود بیاورد تا در مورد آنعده از زنان که قبلا عضو فعال شورای عالی صلح بودند حمایت و از کارکرد ها، تجارب و مفکوره های شان استفاده نمایند."

خانم حسن نظر خویش را در مورد تطبیق پالیسی جندر بیان نموده افزود " ما روی پالیسی جندر کار نمودیم و تمام نظریات را منسجم نموده و شامل پالیسی ساختیم اما متاسفانه پالیسی جندر با پالیسی شورای عالی صلح مدغم  نگردید بلکه به شکل ضمیمه باقی ماند در این صورت ما پیشنهاد میکنیم که این دو  پالیسی با هم مدغم گردد تا بیشتر مورد توجه قرار گیرد."

سپس پرسش های اشتراک کنندگان در مورد گزارش تحقیقی و برنامه صلح و ادغام مجدد از اعضای هیئت منصفه پرسیده و پاسخ به آن ارائه شد.

برنامه با جمع بندی توسط محترمه روشن ثیرن عضو هیئت مدیره شبکه زنان افغان پایان یافت.


هرات

## ارائه و پیشکش گزارش تحقیقی از تطبیق پالیسی جندر برنامه صلح و ادغام مجدد افغانستان در ولایات



بلخ


پکتیا


ننگرهار

## دیدار با آقای عبدالروف ابراهیمی رئیس ولسی جرگه درمورد وضعیت کنونی قانون منع خشونت علیه زنان


۱۴ جون ۲۰۱۶ میلادی

در این دیدار رییس اجرائیوی، اعضای هیئت مدیره، مسوول دادخواهی و نماینده های دفاتر عضو شبکه زنان افغان، محترمه شینکی ذهین کروخیل عضو ولسی جرگه، نماینده دفتر ملل متحد در افغانستان، و نماینده دفتر (IDLO) اشتراک ورزیده بودند. نشست با سپاس و قدردانی از رئیس ولسی جرگه برای تعین وقت ملاقات آغاز و سپس هدف آن بیان شد. در این دیدار روی فعالیت های فعالین جامعه مدنی در قبال قانون منع خشونیت بحث صورت گرفت، که اساسی ترین موضوع نشست را همانا جلوگیری از مورد بحث قرار دادن قانون منع خشونت در اجندای مجلس نمایندگان تا از سوی آنان رد نگردد تشکیل میداد.

اشتراک کنندگان در مورد تغیرات که از سوی دفتر البا به پیشنهاد کمیسیون زنان صورت گرفته بود نگرانی های خویش را ابراز نمودند. آقای ابراهیمی ضمن تاکید بر اینکه وی حامی این قانون است تعهد سپردند که شخص شان از قانون مواظبت نموده و از به بحث کشاندن آن جلوگیری خواهد نمود.

## نشست محترم عبدالستار مراد وزیر اقتصاد با مسوولین نهادهای چتری



۲۱ جون ۲۰۱۶ میلادی



این نشست به هدف بررسی مشکلات موسسات داخلی و خارجی با اشتراک وزیر اقتصاد، سرپرست ریاست انجو ها، نمایندگان موسسات هماهنگی هریک (AWN,SWABAC,ANCB,ACBAR) و سایر همکاران وزارت اقتصاد در مقر این وزارت برگزار شد. در این نشست ضمن بحث روی مشکلات موسسات داخلی و خارجی آقای مراد وزیر اقتصاد کشور در مورد تغییرات که در شکل کاری این وزارت در رابطه به موسسات غیردولتی روی کار است معلومات ارایه نمودند. همچنان بیان داشتند که "خواست این وزارت ارایه تصویر روشن از فعالیت های موسسات است، تا ملت بدانند که موسسات چه فعالیتهای را انجام میدهند و نتایج موثر آن چه میباشد. توقوع وزارت از تمامی نهاد ها تعهد شان به همکاری و شفافیت میباشد. دیدگاه وزارت تعهد، دقت و مدیریت خوب برای بهبود کارها و پیشرفت بوده و همکاری و حمایت خویش را از موسسات غیردولتی اعلام میدارد."

در این نشست روشن مشعل مسوول هماهنگی شبکه زنان افغان به نمایندگی از این شبکه موضوعاتی را از قبیل هماهنگی بیشتر وزارت با نهادهای چتری به هدف در میان گذاشتن مشکلات، نظریات و پیشنهادات موسسات به وزارت قتصاد طی مجالس منظم هماهنگی با وزیر محترم اقتصاد؛ همکاری وزارت برای معافیت موسسات از مالیات؛ حمایت وزارت از موسسات که توسط خانمها رهبری میگردد و اکنون در وضعیت بحرانی عدم دریافت پروژه از سوی تمویل کننده گان قراردارند تا از انحلال و توقف فعالیت های آنها جلوگیری به عمل آید؛ تنظیم مجالس با تمویل کنندگان به طور منظم و با حضور نمایندگان موسسات به هدف جلب کمک ها؛ و ایجاد نمایندگی موسسات هماهنگی در جنب ریاست انجوهای وزارت اقتصاد جهت جلب و جذب شان در نهادهای چتری، پیشنهاد نمودند. در اخیر از تدویر چنین مجالس در آینده ها از سوی مقام این وزارت اطمینان داده شد و از اشتراک حاضرین سپاسگزاری به عمل آمد.

## مجلس مشورتی شبکه زنان افغان در مورد مسوده چارچوب استراتیژی انکشاف ملی افغانستان برای کنفرانس بروکسل

شبکه زنان افغان مجلس مشورتی را با جمع از نمایندگان وزارت مالیه، احیا و انکشاف دهات، ستره محکمه، و نهادهای مدنی در مورد مسوده چارچوب استراتیژی انکشاف ملی افغانستان که توسط وزارت مالیه تهیه و ترتیب گردیده است در دفتر مرکزی این شبکه برگزار کرد. طی این مجلس داکتر فردین صدیقی مشاور ارشد معینیت پالیسی وزارت مالیه مسوده سند مذکور را ارائه و جهت غنامندی آن خواستار نظریات و پیشنهادات حاضرین مجلس گردید. این مجلس با ارائه نظریات، پیشنهادات و طرح پرسشها پایان یافت.



۲۷ جون ۲۰۱۶ میلادی



# مجلس با خانم اول کشور در مورد قانون منع خشونت علیه زنان

۲۷ جون ۲۰۱۶ میلادی



مجلس با سپاسگزاری از سوی حسینه صافی رییس اجرائیوی شبکه زنان افغان برای زمینه سازی آن آغاز گردید، سپس روبینا همدرد مسوول بخش دادخواهی شبکه زنان افغان به توضیح وضعیت کنونی قانون منع خشونت علیه زنان و فعالیت های انجام شده در مورد پرداخت. در ادامه شینکی ذهین کروخیل نماینده مجلس نمایندگان در مورد نقش کمیسیون ها در قبال قانون مذکور صحبت نموده و اشخاص ذی صلاح را شناسایی نمود. اشتراک کنندگان مجلس راه حل های را برای برون رفت از این معضلات پیشنهاد نمودند، از جمله قاضی انیسه رسولی تاکید بر مانع رفتن این قانون به بحث در پارلمان شد. همچنان محبوبه سراج عضو ارشد شبکه زنان افغان پیشنهاد ملاقات با نماینده های ارشد اداره توسعه بین المللی آمریکا (USAID) را نمود. مسیحه فایز نماینده دفتر ملل متحد برای زنان پیشنهاد نمود تا از طریق پیشنهاد به وزیر امور پارلمانی برای خارج ساختن قانون از اجندا تلاش صورت گیرد. که پیشنهادات فوق از طرف محترمه رولا غنی خانم اول کشور مورد تاکید قرار گرفته، فیصله به عمل آمد تا در قدم نخست با هیئت اداری ولسی جرگه ملاقات صورت گیرد، و در گام های بعدی دیدار با وزیر امور پارلمانی و نماینده های اداره توسعه بین المللی آمریکا انجام یابد.

## نشست مشورتی شبکه زنان افغان با اعضای خویش جهت تعین اقدامات بعدی در مورد قانون منع خشونت علیه زنان




شبکه زنان افغان در ادامه فعالیتهای دادخواهی خویش برای قانون منع خشونت علیه زنان، جهت هماهنگی بیشتر و تعیین اقدامات موثر و کارا برای وضعیت این قانون نشست مشورتی را با نمایندگان جامعه مدنی، اعضا و هیئت مدیره شبکه زنان افغان در دفتر مرکزی این شبکه تدویر نمود. در این نشست حسینه صافی رییس اجرائیوی شبکه زنان افغان در مورد هدف این نشست صحبت نموده افزود: "قانون منع خشونت نیاز به دادخواهی و لابی سریع دارد، گرچه شبکه زنان افغان بعضی فعالیت های را در این راستا انجام داده است و نیز یکتعداد فعالیت ها را روی دست دارد ولی بازهم لازم دیده می شود تا با اعضا و همکاران متعهد خویش جهت تعین اقدامات موثر مشوره نموده و هماهنگی صورت گیرد." استاد شهلا فرید عضو هیئت مدیره شبکه زنان افغان و یکتن از اشتراک کنندگان این نشست یادآور شد که قرار است قانون از طریق دفتر JSSP دوباره خواسته و به رییس جمهور فرستاده شود که این یک خبر خوش است. آقای ضیاء مبلغ تاکید بر ملاقات با همکاران البا و خانم فوزیه کوفی نماینده پارلمان نمودند. در نهایت فیصله بعمل آمد تا در مورد وضعیت قانون منع خشونت علیه زنان با رئیس صاحب جمهور، رییس اجرائیه کشور، هیئت اداری ولسی جرگه، فوزیه کوفی نماینده پارلمان، و سفارت امریکا ملاقات صورت گیرد.

# ارایه دومین گزارش سالانه شبکه زنان افغان راجع به کنوانسیون رفع کلیه اشکال تبعیض علیه زنان در افغانستان

۳۰ جون ۲۰۱۶ میلادی












شبکه زنان افغان دومین گزارش سالانه خویش را راجع به کنوانسیون رفع کلیه اشکال تبعیض علیه زنان در افغانستان ارائه نمود. در برنامه که بدین مناسبت در کابل برگزار شد مقامات دولتی، نمایندگان جامعه مدنی، رهبری و اعضای شبکه زنان افغان اشتراک ورزیده بودند. حسینه صافی رییس اجرائیوی شبکه زنان افغان ضمن عرض خوش آمدید به مهمانان در مورد هدف برنامه یادآور شده، افزود که شبکه زنان افغان افتخار دارد که دومین گزارش تحقیقی خویش را در مورد روند پیشرفت سیدا به اشتراک می گذارد. سپس روبینا همدرد مسوول دادخواهی این شبکه طی پیشکش معلوماتی یافته های کلیدی گزارش سیدا و پیشنهادات شبکه زنان افغان از روی این یافته ها را ارائه نمودند. در ادامه برنامه اعضای هیئت منصفه هریک سپوژمی وردگ معین مسلکی وزارت امور زنان، داکتر ثریا صبحرنگ کمیشنر کمیسیون مستقل حقوق بشر، محب الله تایب معاون حقوق بشر وزارت امور خارجه، ماری اکرمی عضو هیئت مدیره شبکه زنان افغان و رییس مرکز رشد استعدادهای زنان افغان و سونیا اسلمی کارمند شبکه زنان افغان به حیث تسهیل گر در مورد وضعیت زنان افغانستان و گزارش سیدا بحث نمودند. به تعقیب اشتراک کنندگان این برنامه در ارتباط به گزارش سیدا پرسش های را مطرح نمودند که از طرف اعضای هیئت منصفه به پاسخ آن پرداخته شد. برنامه با جمع بندی توسط محبوبه سراج عضو فعال شبکه زنان افغان به پایان رسید.

## دستآوردهای اخیر دفتر ساحوی شبکه زنان افغان در ولایت بلخ

۱. شمولیت بیش از ۱۲۰تن محصلین طبقه اناث به پوهنتون های خصوصی ولایت بلخ؛ که در اواخر ماه حمل و اوایل ماه ثور به تعداد ده پوهنتون توسط اعضای گروه دادخواهی شناسایی و به پوهنحی های مختلف محصلین معرفی گردیدند.

۲. معرفی ده تن به شرکت (GSCC) و از جمله ۶ نفر آن که عضویت شبکه زنان افغان را داشتند جذب شدند.

۳. معرفی دو تن از اعضای شبکه زنان افغان به صفت کار آموز به موسسه دیده بان شفافیت افغانستان.

۴. معرفی ۲۸ تن از زنان مستحق به سلسله کورسهای آموزشی خیاطی، گلدوزی، حلبی سازی، موبایل سازی و نجاری ریاست مهاجرین و باید یاد آور شد که این کورسهای آموزشی برای مدت ۶ ماه بوده و روزانه مبلغی هم به صفت کرایه برایشان پرداخته میشود.

۵. معرفی ۴ دختر خانم علاقمند به مسلک پولیس به اداره پولیس

۶. معرفی ۹ تن زن در کمیته شورای عالی صلح ولایتی این ولایت به صفت ناظر

۷. معرفی ۱۷ عضو تیم دادخواهی شبکه زنان افغان در ولایت بلخ به ورکشاپ دو روزه دادخواهی به دفتر آموزشی لیکنین

۸. جلب و جذب بیش از ۸۰ نفر به صفت اعضای انفرادی شبکه زنان افغان طی سه ماه گذشته

# د میرمنو له پاره دمهارتونو زده کړې او تحقیق موسسه

ORSTW

**لرلید(Vision):**

دتبعیض او تاوتریخوالی څخه پاکه یوه سالمه ټولنه جوړه کړای شی ، چی په هغه کی د افغانستان خلک (نارینه ، ښځینه) د هر قسم تبعیض او تاوتریخوالی پرته، پرمختللی او سوله ایز ژوند وکړی.

**رسالت(Mission):**

زمونږ رسالت کړنلاره داده چی د وګړو ظرفیتونه ( تولیدی ، حرفوی او اداری مهارتونو ) بی لوړشی ، تولنیزوی ستونزی د مختلف ډوله څیړنو په ذریعه رابرسیره، دحل لاری یی پیدا کړو ، او هر ډول تاوتریخوالی او تبعیض له منځه یوسو ترڅو یو سالمه ټولنه رامنځته او سوله ایز ژوند ته لاره هواره شی

**د موسسی ارزښتونه(Values):**

هغه اصول چی دا موسسه ورته ارزښت ورکوی ، باورپری لری ، عمل ورباندی کوی او نورو اړوند خلکو ته د عمل کولو وړاندیز کوی.

۱. انسانی کرامت ته درناوی، ۲. پاک نفسی ، ۳. سپځلتیا، ۴. دهر ډول تبعیض څخه کرکه، ۵. سوله ایز ژوند ته لیوالتیا، ۶ . مسلکی توب، ۷. نافده قوانینو ته احترام، ۸. شفافیت، ۹. ځوانانو(انجونو/هلکانو) ته اولیت، ۱۰. کار اهل کار ته سپارل، ۱۱. همغږی غوره ګڼل

**اوږدمهالی مقاصد (Strategic Objectives):**





۱) **مقصد:** د نارینه په ګډون د ښځو مهارتونه په حرفوی ، فنی ، او مسلکی لحاظ لوړ او تقویه کړای شی.

۲) **مقصد:** په ټولنه کی اقتصادی ، ټولیزی او بشری / حقوق ستونزو پیژندل او له منځه وړلو له پاره یی ادوکسی ترسره کول.

۳) **مقصد:** وګړی په فکری لحاظ توپیری چلند ، تبعیض، تاوتریخوالی څخه راګرځول او د وګړو د عامه پوهاوی سطحه لوړول.

**لاسته راوړنی :**

- په ۲۰۱۴-۲۰۱۵ میلادی کال کی د شرق زون کونړ- نورستان – لغمان به نهه ولسوالیو کی ۱۸۰۰ وګړو ته مستقیما او ۱۲۶۰۰ وګړو ته په غیر مستقیم ډول د بشری او مدنی حقوق په اړه اګاهی ورکړل شوه او ظرفیت لوړونه یی وشوه.
- په ۲۰۱۵ کال کی مهارتونو زده کړې او تحقیق موسسه هغه لیری پرتی سیمو خلکو ته لاسی رسی وموند چی هیڅوک هلته نه و تللی او کار ساحه کلیو او بانډو ته پراخه کړه او خلک د مدنی/ بشر زده کړو څخه باخبره کړه.
- په ۲۰۱۶ کال تر اوسه د خلکو ګډون او مدنی مشارکت لاندی د ننګرهار ولایت په څلورو ولسوالیو کی خپل فعالیتونه ترسره کوی او تر اوسه ښی پایلی لری . په دی برنامه کی د ښی حکومتداری، بشری حقوق ، دښځو پیاوړتیا او د خلکو ګډون په ټولنیزو مسایلو کی ، د خلکو نظارت د دولتی بنستونه څخه او ادوکسی کول دی ، چی ددی کال تر پایه به دوام پیداکړی.

# په امنيتي سکتور کې د افغانو ښځو د پياوړي کولو د پاليسی لنډيز

۲۰۱۶ د جون مياشت

## پيليزه:

افغانستان[۱] په تېرو ۱۵ کلونو کې د نړيوالو پاليسي‌جوړونکو د بحث مرکز ګرځېدلی. يو لدې ځايونو څخه هم د [۲]ناټو ناستې بلل کېږي چېرې چې د افغانستان د تلپاتې سولې او اوږدمهاله امنيت او ټيکاو، او د افغان امنيتي ځواکونو د پياوړي‌کولو او هغوی ته د نورو مالي او تخنيکي امکاناتو په برابرولو بحث کېږي. په ۲۰۱۲ کال د شيکاګو د [۳]ناټو په عمومي غونډه کې، د نورو دولتونو مشرانو له افغانستان سره د ۲۰۱۴ کال د امنيتي مسؤوليتونو د لېږد څخه وروسته هم له افغانستان سره خپل ژمنتوب بياځلي تائيد کړ. [۴]د ۲۰۱۴ د ويلز د ناټو عمومي غونډه کې د دولتونو مشرانو پدې هوکړه وکړه چې له افغان امنيتي ځواکونو سره به خپلې مالي او تخنيکي مرستې جاري وساتي. [۵]او د ناټو راتلونکې غونډه د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۸ او ۹مه د پولنډ په مرکز وارسا کې دايرېږي. پدې غونډه کې به له افغانستان سره د دوامداره همکارۍ له لارې اوږدمهاله ژمنتيا د افغانستان لپاره ډېر زيات اهميت ور ده.

د افغانو ښځو شبکه په افغانستان کې د ښځو د حقونو څخه د يوه مخکښ دفاع‌کوونکي بنسټ په ډول د افغانستان په امنيتي سکتور کې د ښځو پرمختګ له نږدې څاري، او پدې اړه خپل اندونه شريکوي او له تېرو ۱۵ کلونو راهيسې د ښځو د وضعيت د ښه‌والي په اړه تحقيقونه ترسره کوي او چاپوي. همدارنګه، د افغانو ښځو شبکې په افغانستان کې له ناټو او آيساف سره همکاري کړې ترڅو په امنيتي سکتور کې د ښځو د وضعيت او موقف د ښه‌والي پخاطر ستراتيژيکې سپارښتنې وړاندې کړي. د هېواد په ګوټ ګوټ کې له ښځو سره د مشورې او د هغوی د اندونو اورېدنه او راټولونه د افغانو ښځو د شبکې غوره تګلاره باله شي. د وارسا ناټو د ۲۰۱۶ کال د غونډې لپاره د افغانو ښځو شبکې يوازې په امنيتي سکتور کې له ښځو سره مشورې کړي. دې حقيقت ته په کتو چې نړيواله ټولنه د افغانستان له امنيتي قواؤ سره خپلې ژمنې بياځلي تائيدوي، نو د افغانو ښځو شبکې په کورنيو چارو وزارت، په دفاع وزارت او د ملي‌امنيت په رياست کې له ۲۰۰ ښځو سره په کابل او ۸ زونونو کې مشورې کړي. ددې مشورو موخه داوه چې له ښځو سره په امنيتي سکتور کې ددوی د پرمختګونو، خنډونو او حل‌لارو په اړه بحث او خبرې‌اترې وشي.

> ددې پاليسی لنډيز د هغو ۱۰ مشورتونو پايله ده چې د افغانو ښځو شبکې د ناټو د وارسا ۲۰۱۶ له غونډې مخکې ترسره کړې. د افغانو ښځو شبکه د خپل ستراتيژيک لومړيتوب په بنسټ چې "ښځې، سوله او امنيت" دی، دا په پام کې لري چې د پاليسی دا لنډيز له افغان دولت، د ناټو او آيساف په ګډون له نړيوالې ټولنې سره په جولای کې د ناټو له عمومي غونډې له دايرېدو مخکې شريک کړي. ددې سند له مخې، د افغانو ښځو شبکه په امنيتي سکتور کې د ښځو د وضعيت په اړه لومړی لاس مالومات برابروي او پدې اړه د ټولو ذيدخلو ادارو او بنسټونو عمل او فعاليت ته سترګې په لار دی ترڅو پدې سکتور کې د ښځو رول، ونډه، ګډون او رهبري لاپسې پياوړي کړي.

### تراوسه شوي پرمختګونه

### د دفاع وزارت او د ښځو پياوړتيا:

۱. له [۶]۱۹۵،۰۰۰ افغان ملي‌اردو منسوبينو، ۱۴۰۰ يې ښځې دي. ۴۰۰ ښځې نوې استخدام شوې دي او اوس‌مهال په ملي‌نظامي اکاډمۍ کې په ښوونه او روزنه بوختې دي. تمه کېږي چې په دفاع وزارت کې به د ښځو شمېر ۵۰۰۰ تنو ته ورسېږي.

۲. په افغان ملي‌اردو کې يو شمېر ښځينه د لوړو زده‌کړو په موخه پوهنتونونو ته پېژندل شوې دي.

۳. ښځو ته همدا ډول ددې چانسونه هم شته چې له هېواده دباندې په بورسونو کې زده‌کړو ته ولاړې شي.

---

[۱] http://www.nato.int/cps/en/natohq/topics_۸۱۸۹.htm
[۲] https://en.wikipedia.org/wiki/NATO_summit
[۳] http://www.nato.int/cps/en/natohq/official_texts_۸۷۵۹۳.htm?selectedLocale=en
[۴] http://www.nato.int/cps/en/natohq/news_۱۱۲۵۱۷.htm
[۵] http://www.nato.int/cps/en/natohq/news_۱۲۵۴۰۹.htm?selectedLocale=en
[۶] http://mod.gov.af/fa/page/۱۳۹۲۱

### د کورنیو چارو وزارت او د ښځو پیاوړتیا:

۱. له ۱۵۰،۰۰۰[۷] افغان ملي‌پولیسو څخه ۳۳۲۶[۸] یې ښځې دي (۲۹۳۷ پولیسانې او ۳۸۹ ملکیانې دي) چې اوس‌مهال د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې په کار بوختې دي.

۲. د افغان ملي‌پولیسو په چوکاټ کې دننه په ټول هېواد کې ۸۲[۹] د ښځو پولیسانو مشورتي مرکزونه جوړ شوي دي چې دوی هلته په منظم ډول راټولېږي، خپلو ځنډونو او هغو ته د حل‌لارو په پیداکولو بحث کوي.

۳. د ښځینه پولیسو د استخدام پروسه ډېره ړنه او اسانه ده چې په همدې دلیل د افغان‌ملي‌پولیسو په چوکاټ کې د ښځو شمېر مخ په زیاتېدو دی.

۴. د هېواد دننه او بهر د ښځینه پولیسانو لپاره د تخنیکي وړتیالوړونې کوښښونه اغېزمن ثابت شوي دي.

۵. د آسانتیاؤ د برابرولو په پروسه کې سست پرمختګونه شوي، لکه د ښځو لپاره تشنابونه او د ښځو د لباس د تبدیلولو کوټې او داسې نور...

۶. د ځینو ولایتونو په امنیه قومندانیو کې د ښځینه‌پولیسانو موجودیت په خلکو او په ځانګړې توګه په ښځو کې باور او اعتماد رامنځته کړی. ښځې له ښځینه‌پولیسو سره اړیکې نیسي او له هغوی کومک او مرسته غواړي.

۷. په ځینو ولایتونو کې ښځینه‌پولیسانو په بریمن ډول هغه یاغیان چې ښځینه جامې یې اغوستې وې وپېژندل او همدارنګه د امنیتي تهدیدونو په پېژندلو، د ترياکو او وسلو قاچاق‌وړونکي، غله او انسان‌تښتوونکي په نښه کړي او د قانون منګولو ته یې سپارلي.

### د ملي امنیت ریاست او د ښځو پیاوړتیا

۱. ۷۰۰[۱۰] ښځې اوس‌مهال د افغانستان د ملي‌امنیت په عمومي او ولایتي ریاستونو کې کار کوي.

۲. د وړتیالوړونې کورسونه لکه د انګلیسي‌ژبې د زده‌کړې کورس، د موټر چلونې او د اولیه‌کومکونو د مهارتونو زده‌کړه.

۳. ځینو ښځو پخپلو دندو کې له پرمختګونو ډېرې خوشاله دي او ځینې نورې یې منتظرې دي چې پخپلو دندو کې پرمختګ وکړي.

## په امنیتي سکتور کې د ښځو د ونډې او ګډون په لیاره کې پراته خنډونه

### ۱. استخدام

په امنیتي سکتور کې د ښځو د ضعیف استخدام په اړه ستر خنډ د دندو ضعیف اعلان دی. د ولسوالیو او کلیو په کچه د عامه‌پوهاوي داسې پروګرامونه نشته چې په امنیتي سکتور کې د ښځو د ونډې د اهمیت په اړه مالومات وړاندې کړي. ددې کار پایله دا شوه چې په امنیتي سکتور کې د ښځو د کارکولو په اړه خلک منفي نظرونه ولري. هغه ښځې چې خپلې روزنې بشپړوي او یا له بهر څخه بېرته راګرځي نو په ډېرې سختۍ د امنیتي قواؤ په چوکاټ کې د ضعیفې سیاسي ارادې او موجوده تبعیض په اساس په کار ګومارل کېږي. د امنیتي قواؤ په چوکاټ کې ډېری پدې نظر دي چې د ښځو وړتیا کمه ده او نشي کولای ځینې ځانګړې دندې اجرا کړي. د امنیتي قواؤ په چوکاټ کې چې اوس د ښځو لپاره کوم بستونه دي پر هغو نارینه کار کوي او یا هم خالي پاتې دي او هغه ښځې چې د منتظرینو په لست کې دي، نه استخداموي.

### ۲. پرمختګ او دنده ورکول

د افغان امنیتي قواؤ په چوکاټ کې ښځې پدې باور دي چې دوی د سرېږو د نفوذ او قوي تبعیض له وجې په ډېره بد ډول اغېزمنې شوې دي. له ځینو ښځو سره چې مشورې او مرکې شوې دي ویلې چې دوی حتی تر پنځو کلونو پورې د خپلو دندو د پرمختګ لپاره انتظار ویستی او همدارنګه د افغان امنیتي قواؤ په چوکاټ کې داسې مشخص پلان هم وجود نلري چې د ښځینه‌کارکوونکو د پرمختګ لپاره پلان جوړ او عملي کړي. ډېری پرمختګونه د شخصي اړیکو او سیاسي سپارښتنو پراساس ترسره کېږي نه د رقابت او سیالۍ پر اساس. هغو ښځو چې

---

[۷] http://www.af.undp.org/content/dam/afghanistan/docs/Project-Summaries/ProjectSum-۰۱۲۰۱٦/LOTFA-Project٪۲۰Summary٪۲۰Dec٪۲۰۲۰۱۵.pdf

[۸] Data provided by Department of Gender, Human Rights and Child Rights, Ministry of Interior

[۹] Ibid ۷

[۱۰] Data provided by NDS Gender Focal point

پر خپلو دندو کې پرمختګ کړي، ډېره ستونزمنه ده چې د رهبرۍ رول ته لاره پیدا کړي. دا ښځې د ملي امنیتي ستراتیژیګانو او پالیسیو د مشورو، طرحو او عملي‌کولو برخه ندي.

### ۳. وسایل او ټرانسپورټ

ښځې دا شکایت هم لري چې د سړیو په څېر هغسې وسلې نه ورکول کېږي، سربېره پردې چې د وسلو د استفادې روزنه ورکړل شوې ده. دوی همدارنګه وویل چې د سړیو په ډول دوی ته یونیفورم نه ورکول کېږي او نه ورته په مناسب ډول جوړېږي او تیارېږي. همدارنګه ښځې د ټرانسپورټ ستونزې لري او نشي کولای چې پر وخت سره د جرایمو او پېښو ځای ته ځان ورسوي او خلکو ته لاسرسی ولري. ښځې تراوسه پورې تشنابونو او د جامو بدلولو ځایونو او کوټو ته لاسرسی نلري. هغه ښځینه‌پولیسانې چې اولاد لري نشي کولای چې د ماشومانو د خدمتونو په نشتون کې خپلو دندو ته ادامه ورکړي.

### ٤. تبعیض او جنسي اذیت

د افغان امنیتي قواؤ په داخل کې د ښځو په وړاندې منفي غبرګونونه او تبعیض شتون لري. په امنیتي سکتور کې ډېری ښځې پدې باور دي چې د ښځو په وړاندې احترام نشته، او د دویم درجه اوسېدونکي او کوښه‌شویو وګړو په سترګه ورته کتل کېږي. له ښځو سره د دندو په پرمختګ، په مناسبو بستونو د استخدام او همدارنګه د ځینو سهولتونو او روزنو د لاسرسی په لاره کې ورسره تبعیضي چلنونه کېږي. ددې ټولو کارونو پایله داده چې ښځو پخپل رول او اهمیت باندې باور له لاسه ورکړی دی. د جنسي‌اذیت، چپاو او ازار شکایتونه په پراخېدو دي. د کار په ساحه کې د جنسي‌اذیت او ازار پر ضد د نوې پالیسۍ او ځینو حکمونو د صادرېدو سربېره بیا هم تعقیبي میکانیزم وجود نلري چې دا ډول پېښې تعقیب کړي او د کار په ځای کې له ښځو ملاتړ وکړي.

### ۵. د وړتیا خنډونه

د افغان امنیتي قواؤ په چوکاټ کې تراوسه پورې ښځې د سواد، تخنیکي او وړتیا له ستونزو سره لاس‌وګرېوان دي. دا باور شتون لري چې ښځې په امنیتي سکتور کې تراوسه د عمومي مالوماتو له کمښت او همدارنګه د خپلو دندو په اړه د تخنیکي مالوماتو له نشتون سره مخ دي. په امنیتي سکتور کې د ښځو د وړتیا لوړونې په موخه ځینې نوښتونه شوي دي خو اوږدمهاله، اغېزمن او کافي ندي. ښځې پدې باور دي چې دوی د خپلو دندو د پوهېدو او پېژندو لپاره اړتیا لري. ښځې د خپلې ښوونې او روزنې په دوران کې د مطالعې له کافي وخت سره لاس‌وګرېوان دي او همدارنګه د سیمینارونو او ورکشاپونو په پیداکولو کې چې ددوی له دندو سره اړخ لګوي ستونزې لري.ډېری وختونه ددوی نارینه آمرین دا اجازه نه ورکوي چې لداسې فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.

## د راتلونکې لپاره پلان

ددې حقیقت سربېره چې په افغان امنیتي قواؤ کې د ښځو ونډه ډېره شوې ده ځینې ځانګړي پلانونه او ستراتېژیګانې چې د ښځو کېڼون په امنیتي قواؤ کې لاډېر کړي، ددوی د رهبري او تصمیم‌نېونې رول ته پیاوړتیا وبښي، او امنیتي سکتور د جنډر د برابرۍ او مساواتو په نمونو تبدیل کړي، د افغانو ښځو شبکه لاندنۍ سپارښتنې لري؛

### د افغانستان دولت – د کورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، او ملي امنیت ریاست

۱. موږ په افغان امنیتي سکتور کې د ښځو د استخدام د پیاوړي‌کولو او ډېرولو په موخه د تلویزیون پروګرامونه، د ښوونځیو سیمینارونه، بروشرونه، بلبورډونه، پوسټ‌کاردونه او نور وسایل چې د ښځو په رول او اهمیت باندې تمرکز ولري، وړاندیزوو. د پوهاوي نوموړي پروګرامونه باید هغه ولسوالۍ‌ګانې، کلي او باندې په نښه کړي چې هلته سیمه‌ییزې ښځې او سړي، دیني مخور، د کلي مشران او د کلیو شوراګانې فعاله وي.

۲. موږ په افغان امنیتي قواؤ غږ کوو چې د هغو ښځو پرمختګ او دندو ته لومړیتوب ورکړي چې کلونه انتظار باسي. دا پرمختګ باید د سیالۍ، د کلونو د تجربې او مهارتونو پر بنسټ وي.

۳. ښځې کولای شي چې په مساویانه توګه په ستراتېژیکه تصمیم‌نیونه او پالیسي‌جوړونه کې برخه واخلي. موږ په افغان امنیتي قواؤ باندې غږ کوو چې د ښځو د رهبرۍ او تصمیم‌نیونې رول د کورنیو چارو په وزارت، د دفاع په وزارت، او د ملي امنیت په ریاست کې د جنډر د ریاستونو سربېره زیات کړي.

۴. موږ همدارنګه د نویو ښځینه‌غړو په استخدام باندې ټینګار کوو. دا کار باید د یوه پلان له مخې ترسره شي چې په بېلابېلو ریاستونو کې جنډر مراعات شي چېرې چې ښځې د خپلو تجربو له لارې تعینېږي او خالي بستونه په ښځینه تخنیکي متخصصینو باندې ډک شي.

۵. موږ همدارنګه افغان امنيتي قواوې (د کورنيو چارو وزارت، د دفاع وزارت، او د ملي امنيت رياست) باندې ټينګار کوو چې په عاجل ډول خپل وزارتي پلانونه د UNSCR ۱۳۲۵ د ښځو، سولې او په کاري چاپېربال کې د امنيت او جنسي اذيت د مخنيوی او له‌منځه‌وړو په موخه د افغانستان ملي اکشن پلان د پلي‌کونې په موخه طرح او ترتيب کړي.

۶. موږ په افغان امنيتي قواؤ باندې غږ کوو چې په عاجل ډول د ښځو د شکايتونو لپاره يو ميکانيزم رامنځته کړي چې ښځې په ډېرې آسانۍ او مستقيم ډول هلته وکولای شي خپل شکايتونه د بې‌حرمتۍ، تبعيض، او جنسي ازار او اذيت په اړه ثبت کړي او همدارنګه يو بورډ تعين شي چې نوموړي شکايتونه له تسليمۍ وروسته تعقيب کړي او وڅاري.

۷. موږ افغان امنيتي قواؤ ته خپل ملاتړ وړاندې کوو چې د ښځو د ورتيالوړونې او پوهې د کچې په لوړوالي کې مرسته کوو. دې کې به د دندې پر مهال روزنه او رهبرۍ د تخنيکي او مهارتي اړتياؤ د لوړوالي په موخه شامل وي.

## نړيواله ټولنه

۱. موږ په هغو پاليسي‌جوړونکو باندې غږ کوو چې د وارسا ناټو غونډې کې ګډون کوي، تر څو په افغان امنيتي سکتور کې د ښځو د پياوړي‌کولو لپاره خپلې ژمنې بيا تائيد او تصديق کړي.

۲. موږ په نړيواله ټولنه غږ کوو چې له افغان امنيتي قواؤ (د کورنيو چارو وزارت، د دفاع وزارت، او د ملي امنيت رياست) او نورو اړونده بنسټونو او ادارو سره د افغانستان ملي اکشن پلان ۱۳۲۵ د پلان او پلي‌کونې په موخه تخنيکي او مالي ملاتړ وکړي.

۳. موږ پر آيساف باندې ټينګار کوو چې له افغان امنيتي قواؤ سره د ښځو د حقونو او بشري حقونو د ليد پر اساس تعامل وکړي، د افغان ملي اردو او ملي پوليسو پوهاوی لوړ کړي، او ددې ډاډ ترلاسه کړي چې دوی ښځو ته احترام کوي او له ښځو سره کارکولو ته زړه ښه کوي.

۴. موږ په نړيوالې ټولنې غږ کوو چې د افغان امنيتي قواؤ په داخل کې د ښځو پرمختګ د ځينو شرطونو له لارې اندازه‌ګيري کړي لکه د استخدام لپاره د بسپنې تخصيصول او د ښځو پاتې کېدل.

۵. موږ په نړيوالې ټولنې غږ کوو چې په افغان امنيتي قواؤ کې د ښځو د ورتيالوړونې په موخه اوږدمهاله مالي بسپنه وضع کړي.

## مدني ټولنې

۱. موږ په مدني ټولنو باندې غږ کوو چې د افغان امنيتي قواؤ په داخل کې له ښځو سره خپل پروګرامونه پراخ کړي تر څو د ښځو د استخدام د کمپاين، د ورتيالوړونې او پوهاوي په کوښښونو کې ونډه واخلي.

۲. موږ په مدني ټولنو باندې غږ کوو چې ځارنې پلان او ميکانيزم جوړ کړي ترڅو د افغان امنيتي قواؤ په چوکاټ کې د ښځو پرمختګ او خندونه وڅاري او نړيوالې ټولنې او د امنيتي قواؤ رهبری ته د حل مناسبې لارې چارې وړاندې کړي.

۳. موږ په مدني ټولنو باندې غږ کوو چې د افغان امنيتي قواؤ په چوکاټ کې د ښځو پر وړاندې خپل تحقيق او څېړنې ته قانوني رنګ ورکړي.





# د افغان ښځو شبکی اعلامیه
# د کندز په لارى برمته شوى ، بیګناه کسان دى

پرلپسی شمیره (۳۰)

نیته: ۱۲/۳/۱۳۹۵ برابره ده له ۱/۶/۲۰۱۶

کابل – افغانستان

د کندز په لوي لارى برمته شویو خبر او د یو شمیر بیګناه کسانو نازره سوى سره وژني یوځل بیا د ټول هیواد وګړى د غم په ټغر کینول ، او یوځل بیا یي دا څرګنده کړه چي افغانستان خورا بي رحمه او خطر ناک دښمن لرى ، چي د بى ګناه خلکو په حال زړه سوى نه کولو نه سربیره ، هغوى په ډیره بى رحمانه او ویرونکى توګه وژني .

دا لومړى ځل نه دى چي زمونږ هیواد ملکي وګړي په داسى حال کى چي له یوه ولایت نه بل ولایت ته سفر کوى ، د لوى لارى په اوږدو کي د دوښمن غیرى انسانى ډلیزى یرغل قربانى کیږى بلکه دا د داسي ناوړو پیښو تکراردى چى له تیر وخت نه یى دوام پیداکړى او لامل یى ددولت ناتواني او نه ژمنتوب د لویو لارو د امنیت د خوندیتوب په ساتنه کى دى ، په خواشنى سره چارواکو تر اوسه ونه شوى کولاى چى زمونږ د مسافرو وطنوالو لپاره اسانتیاوى رامنځ ته کړى له دى امله مونږ یوځل بیا په دولت او ټول په جنګ کى ښکیلو ډلوغږ کوو ترڅو :

۱. بیګنا خلکو ته د ضرر رسولونه لاس په سر شى ، او پریږدى ترڅو لوى لاري ، مسجدونه ، ښونځى ، روغتیایى مرکزونه او نور دى ته ورته ځایونه خوندي اوسي .

۲. ښکاری تګلاری د لویو لارو مسافرو د خوندیتوب لپاره په پام کى ونیول شي او په جدى توګه دیته ورته پیښو مخنیوى لپاره لاس په کار شى .

۳. د پاتى برمته شویو کسانو دخلاصون لپاره د پام وړ تدابیر ونسى اوهم د شهیدانواو برمته شوى کورنیو لپاره د اړو مرستى چمتوالى وکړى.

۴. د سولى خبرو اترو لپاره د هرڅه نه مخکى باید عمومى حالات له هرډول تاتریخوالى نه پاک وى ترڅو دا پروسه دخلکو لپاره د باور وړ وګرځى.

# IN PROVINCES:





***June 05, 2016***

**Afghan Women's Network Balkh province Advocacy Representative, members of the Board and Advocacy committee met with Mr. Ata Mohammad Noor Governor of the Balk Province for justice and follow up of 18 years old girl's case which has been raped, where the governor had announced his commitment on written form for the justice implementation and prosecution of the case.**



**June 26, 2016**

**Afghan Women's Network held Advocacy Workshop in Herat Regional Office for capacity development of the Network teams at west four Provinces e.g. Herat, Farah, Ghur and Badghis, and AWN's members total of 30 participants participated in the workshop from all four provinces.**




**June 26, 2016**

**Afghan Women's Network held advocacy workshop in Paktia regional office for capacity development of Network teams at south east four provinces e.g. Paktia, Paktika, Khost, and Logar. Total of 25 participants participated in mentioned workshop from all four provinces.**



**June 26, 2016**

**Afghan Women's Network held advocacy workshop in Nangarhar regional office for capacity development of Network teams at south east four provinces e.g. Nangarhar, Kunar, Nooristan, and Laghman. Total of 25 participants participated in mentioned workshop from all four provinces.**

This finding reveals that the APPR Gender Policy objective to establish Gender Steering Committees in all PPCs has not been accomplished. Further, among the six confirmed Gender Steering Committees, only one had the required 5 to 7 female members, indicating that the representatives of women-led organizations are currently not participating in such committees, as was specified in the gender policy.

- Although community needs assessments have been conducted by some PPCs, to ensure the relevance and appropriateness of APRP community development and recovery programming, it is not an activity that has been established as standard procedure across all provinces.
- Five out of 21 visited PPCs were able to confirm that they had implemented gender sensitive programming during the years 2014 and 2015. Lack of funding and gender budgeting are two key impediments that hinder the implementation of such projects and programs.
- All of the visited communities across Afghanistan confirmed being aware of the APRP program. Afghan men and women expressed a general desire for more longer-term community recovery programs with focus on livelihood opportunities.

**AWN's Research Department**

# Snapshot:

## Research Report on Implementation of APRP's Gender Policy




Afghan Women's Network (AWN) undertook this monitoring initiative along with its partner organizations to assess the extent to which the Afghanistan Peace and Reintegration (APRP) Gender Policy has been implemented since 2011 at the sub-national level. More specifically, the research examines the degree to which the representation of women has increased in the institutional structures of the APRP and if gender responsive programming and budgeting has been implemented adequately to include women in the peace process at the community level. The report also includes a section of community perceptions regarding the APRP and its impact.

The findings of this monitoring study are based on a total of 249 qualitative interviews with key informants and 40 focus group discussions with community elders and women, primarily living in rural Afghanistan. Key informants include, Provincial Peace Committee (PPC) members, Provincial Council (PC) members and Community Development Council (CDC) members. Additionally, eleven key informants were interviewed in Kabul, including respondents from HPC and numerous relevant line ministries involved in the implementation of the APRP.

**Key Findings:**

- More than 70 percent of all PPC members confirmed having participated in one or more voluntary gender awareness trainings during the years of 2014 and 2015, which suggests gender awareness is common among APRP officials at the sub-national level.
- Women's meaningful participation within the structures of the APRP at the decision-making level remains limited with an average of 2.7 women per PPC.
- Six out of 19 PPC chairpersons confirmed having a Gender Steering Committee.

THE WAY WE TALK

TO OUR CHILDREN

BECOMES THEIR

INNER VOICE

# Afghan Women's Network

# Newsletter

Year (3), Issue No.25, June 2016

دولت به منظور تأمین سلامت جسمی و روحی خانواده، بالاخص طفل و مادر، تربیت اطفال و برای از بین بردن رسوم مغایر با احکام دین مقدس اسلام تدابیر لازم اتخاذ می کند. (قانون اساسی افغانستان، ماده پنجاه و چهارم)

Funded By:

Australian Government

Department of Foreign Affairs and Trade